# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|



بسمل


۱٤ جون ۲۰۱۱

زما درنو افغانو خویندو او ورونو! د سلامونو ترڅنګ تاسو اوستاسو ټولودرنو میندو ته دمور د ورځې په ویاړ د درناوي سر ټیټوم ستاسو ژوندیو میندو ته مباره کي ، سلامونه او نېکي پیرزویني وړاندې کوم او که مو خدای مه کړه ګراني میندې زما په شان له دې فاني نړۍ څخه تللي وي هغوی ته فردوس جنتونه غواړم، دمور د درناوي لپاره مې یو شعر لیکلی  ستاسو ټولو خدمت ته یې درلیږم

بې میندو مه شئ په ما ګرانو خویندواو ورونو

ستاسو بسمل

دمور دنړیوالي ورځې په ویاړ

۲۰۱۱ـ۰۶ـ۱۳

## اه ته په ارمان ولاړې

**په یو زانګو زنګوې په بل جهان مورې**
**له دواړو لاسو دې شم قربان قربان مورې**

**دبشریت باغچې ته له ارزوګانو سره**
**راوړې دزړه په مینه رنګین ګلان مورې**

**دورځې سترې سترې دشپې هم خوب نه لرې**
**روزې سبا لپاره خپل ماشومان مورې**

څوک ساینس مخ ته بیایي  څوک په مخ نورې چارې
هم دې ښوونکي راوړل هم طبیبان موري

دا ننني پرمختګ شوی دتا په مټو
انسان دې ورساوه آن تراسمان موري

زموږ تاریخ پرې روښان ستا دجګر په تږتو
هم یې ګټلی سنګر هم یې ایمان موري

چې دې رایاده کړمه غریو مې مری کړي تنګي
اه ته په ارمان ولاړې زه په ارمان موري

زما خوږې موره کې اروا دې ښاده غواړم
بسمل دې پرېښود تنها په بیابان موري

په یو زانګو زنګوې په بل جهان موري
له دواړو لاسو دې شم قربان قربان موري